# دځوانانو نړیوالې ورځې په ویاړ!

د زمري۲۲ مه چې د اګست دمیاشتې له ۱۲ مې نیټې سره سمون خوري ؛ دځوانانو نړیواله ورځ ده. دغه ورځ په ټوله نړۍ کې په بېلابېلو دودیزو جشنو سره لمانځل کیږي، خو افغانستان کې دځو کلو راپه دېخوا دځوانانو نړیواله ورځ لمانځنه یې په ځینو ولایتونو کې په پیکه او دنمایشي غونډو په ترڅ کې ترسره کیږي او ډیري ځوانان هم له یادې ورځې ناخبره دي.

په هېواد کې کرغیړنې جګړې زموږ ګڼ شمیر ځوانان تیت او پرک کړل، څه په اور کې لولپه شول، څه بهرنیو هېوادونو ته کډوال شول .

همدارنګه دهېواد دښمنانو له مخکې طرحه کړې توطیې او پلانونه زموږ ځوانان یې له سواده محروم، په نیشه یې توکو روږدي، د یو نوم او بل په نوم یې سره خپلو کې په جګړو ښکېل کړل او دهېواد اقتصاد ته یې بې درکه زیانونه واړول، چې دغه لړۍ لا روانه ده.

د اوسنۍ عصر ځوانان او راتلونکي نسلونه دې له تجربو ګټنه پورته کړي، چې د بهرنیو استخباراتي کړیو دسیسې دې نورې شنډې کړي، پرې نږدي، چې زموږ په ځوانه هستۍ دبازۍ میدان تود وساتي؛ بلکې د پوهې له مخې دې ورته غاښ ماتونکي ځواب ورکړي.

همدا ځوانان دي، چې دهیواد په جوړولو او پرمختګ کې رغنده رول لوبولای شي او ځوانان دیوه هیواد دملا تیر حیثیت لري، باید ولس او حکومت دواړه دغه قشر ته پاملرنه وکړي.

که په کومه ټولنه کې ځوان شتون ونه لري، هغه ټولنه به نیمګړې او ورسته پاتې وي، خو داچې ځوانان څومره دهیواد پروړاندې مسؤلیت منونکي دي، باید خپل مسؤلیت ته ځیرنه وکړي، چې ټولنه د شته ووبدبختیو نه په امن کې کړي.

ځوانان د پوهې، صبر، حوصلې او دنیکو اخلاقو ښېلګه ځان په ټولنه کې خلکو ته ثابت کړي، چې همدا اصل د دوی ځانګړتیاوې په ګوته کوي. ځکه پوه، حوصله لرونکي او دښو اخلاقو ځوانان د هرڅه درک کولای شي او هم دخلکو نظریې، وړاندیزونه او خبرې ښې آوریدلی، زغملی او ورته رسیدنه هم کولی شي.

که چیرې ځوانانو کې پورتني اوصاف شتون ونه لري، نو هېڅکله به خپله ټولنه د سمون لوري ته حرکت ورنه کړي او شته بدمرغۍ به لا پکې زیاتې وي.

ځوانان چې دخپل کور( هېواد ) په وړاندې څومره چې مسؤلیت منونکي دي، نو په جوړونه او پرمختګ کې اوچت او ګړندي قدمونه واخلي او ولس هم همدغو ځوانانو ته سترګې نېولي دي، نو باید ځوان دې خپل مسؤلیت وپیژني او په ادانه کې رښتیني خدمتونه ترسره کړي.

دځوانانو نړیواله ورځ یوازې په دې بسنه ونه شي، چې یاده ورځ دې په غونډو او محفلونو ولمانځل شي؛ بلکې لازمه ده، چې ټولوځوانانو ته یوشان پام وشي، د دوی استعدادونه او وړتیاوې په نظر کې ونېول شي او د ولس د چوپړتیا لپاره په ښو دندو وګمارل شي، څو ځوان وکولای شي، چې د ولس له اوږو درونند بار په خپلو متو دمقصود تر منزله ورسوي.

پیاوړي او خدمتګار ځوانان باید د دولت له مسؤلینو لخوا په مکافاتو ونازول شي، چې ځوان په هره برخه کې د نورو خدمتونو د ترسره کولو لپاره روحیه ترلاسه او هېوادوالو ته د سوکالۍ او آرامۍ آسانتیاوې رامنځته کړي.

ولس چې له ځوانانو ډېرې هیلې او غوښتنې لري، دوی دې تر وسه کوښښ وکړي، په خپلو مسؤلیتونو فشار راوړي او په نېکو کړنو کې دې مخکښې غوره کړي.

راځئ ځوانانو ! دملي یوالي سمبول واوسو، د هېواد دخاورې دښمن پر مخ درنه څپیړه به مو هلته ورکړې وي، چې د یوالي په شتون، خپل هېواد کې دجګړو پر ځای بنستېزې او ښوونیزې چارې پیل او دوام ورکړو. ځواني به هلته ثابته کړو، چې د هر افغان درد خپل درد وګڼو او د ګران افغانستان نه اور مړ او دسوکاله او ښېرازه ژوند نوي فصل پرانیزو.

دغه آرمان ته د رسېدو لار ټینګه اراده او قوي عزم ته اړتیا ده، چې ټول ځوانان دغه او صاف پرځان ومني، خو که تش په خولې ووایو او عمل ونه کړو، نو د ځوان احساس به موږ کې نه وي او بې پلانه ژوند او وخت به هسې پرموږ تېر وي او دښمن به تر دې زیات خپلو شومو موخو ته په آسانۍ توګه ځان رسولي وي.

د ټولو ځوانانو یوازینۍ هیله داده، چې د ځوانانو ورځې دې په نمایشي غونډې ونه لمانځل شي، کوښښ په دې وشي، چې ځوانانو لپاره کاري غوره چاپیریال رامنځته او عملي کار ورته وشي.

داهم باید لست شي، چې زموږ په هیواد کې څومره کادري او مسلکي ځوانان شتون لري. خو حکومت ورته لا هم په هغه اندازه پام نه دې کړې، کوم چې ورته لازم ګڼل کېږي، ځکه ځوانان خپلې وړتیاوې دولسونو دخدمت کولو قرباني واوسي، نه دجنګ او جګړو. !

**لیکنه : شیرمحمد«امیني» ستانکزی**

## لوګر پیژندنه / لوګرشناسی

موږ سره مرسته وکړئ، چې ستاسو کلی هم در وپیژنو!

# ولسوالی محمدآغه

**نویسنده: استاد شاه محمود محمود**

**محمدآغه یکی از ولسوالی های بزرگ ولایت لوگر است . در داستانهای فولکلوری آمده است که دو برادر بنام جمال آغه و محمد آغه از باشندگان ولایت غزنی عزم سفر نمودند محمد آغه در لوگر و جمال آغه در ولایت کاپیسا مسکن گزین شدند .**



**این ولسوالی 1017 کیلومتر مربع مساحت دارد. در حدود 35 کیلومتر از ولایت کابل فاصله دارد. مردم زراعت پیشه و مختلط از اقوام مختلف است . نفوس آن قبلا " به 20900 نفر بود. در سال 1990 نفوس این ولسوالی را به 57690 نفر محاسبه نموده اند . محمد آغه از جنوب غرب به پل علم ، از طرف غرب به نرخ میدان شهر و شمال به چهارآسیاب و خاک جبار، از طرف شرق به ازره ، و جنوب به خوشی محاط است. این ولسوالی شامل 73 قریه و قلعه میباشد .**

**قریه گمرانی، قلعه انور، نیازی، دوران خیل، غندی، شیرافغان، میرگی خیل، نظرخیل، حسین خیل، غلام حیدرخان، قلعه خانجان، قریه شیرازه، کندواله، قریه کبخ، کمال خیل، نظر خیل، قریه ده نو، باغ سلطان، دیوالک، شکارتی خیل، سرخ آباد، قلعه شیخک، وزیرستان، قوم هزاره، هزاره، شادی خان، تنگی واغجان، زرغون شهر علی خیل، قلعه دلیل، قلعه شاهی، قلعه دولت، محمدآغه، میرزا خیل، کتب خیل، قلعه جرنیل، پل قندهاری، خواجه داخیل، گوتگی، گولی خیل، خادوخیل، کیشنی، شاه غاسی، غزنی خیل، قلعه وزیر، سلام خیل، سیاه کوه، مغول خیل ، شکار قلعه، زید آباد، دشتک ( لوی کلا)، قریه عینک، آب پران، احمدزایی، سید میر قلعه احمدزایی، سنگرخیل گران، تاج خان، قلعه بهادر خیل، سفید سنگ، آب بازک، تاریگوت، سیاه بینی، قلعه نذیر، قریه قلی، لنگر،غال دره، کاریز، سرخ آب، دره سرخ آب، رحیم آباد، قنات ملک ، بنی شیرافغان ( بینی شیرافگان) ، گل محمد، بهایی جان کور، پچی، عبدالرحمن، باووخیل، گارگاو، بیکو، نیازگل، محمد خیل، لوپک، دو راو، دارا، شاه توت، گُپک، شگور، زاره کلا، چمبو، قلعه پادشاه، مزگین، غوچی، داردار، حیرت خان کلی، ملک خیل، ده میانه، ده مانکی، لاشکن خیل، قلعه شاهسوار، احمدزی، میر کاریز، سورکاریز، کاریز گلی، سعادت خیل، کیشم کلا، بوری خیل، شاسته زیدآباد، سری پل، قلعه ملا امان، قلعه مله گی، ملا بهادر، قلعه سید، زکریا خیل، ناری کوت، کوچیانی کلی، اخوند زاده خیل، سرکلی، کنج، نظر کلا، الکوخیل، اسرا تنگی، باغ، کلا گی، کاگی، شینکی، ذاخیل، قلعه مارا، تارورسک، میرجان کلی، چناری، بورگ، پنه مای، داگ کلا، پاری کلا، لندی کلا، باری خیل، پانده خیل، گرگ مایان و چینو سر، شش قلعه، کاریز سید، مله خیل، ظلی خیل، منی درخ، گزی، دربند، قلعه ناظر و قلعه ملک .**

### مراکز تاریخی و معادن ولسوالی محمد اغه :

**ولسوالی محمد آغه یکی از محلات باغ دار ولایت لوگر است . قبل از ویرانی و فرار و مهاجرت مردم ؛ باغ های سیب آن شهرت داشت . همچنان منابع طبیعی سنگ کرومیت و مس ؛ مشهور بنام مس عینک لوگر در این ولسوالی در دامنه سیاه کوه یا تور غر قرار دارد. معابد بودایی عینک یکی از مشهورترین عبادتگاه بوداییان بوده است . آثار کشف شده تا حال نشان میدهد که این معابد از غنی ترین نیایشگاه های دوران کوشانی به شمار میرفت .**

**بند آب بزرگ سرخ آب نیز در این ولسوالی موقعیت دارد و میدان هوایی که قبلا " نظامیان از آن استفاده میبردند دراین ولسوالی موجود است . در زمان جمهوری محمد داوود خان فیصله شده بود تااین میدان را انکشاف داده و میدان هوایی مدرن ملکی اعمار نمایند.**

### جوی ها و نهر های ولسوالی محمد آغه :

**این جوی ها که عموما " از دریای لوگر سرچشمه میگیرد افزون بر کاریز های است که قبلا " از آنها نام برده شده است . جوی ها عبارتند از : جوی کیشم، جوی شیرافغان یا شیرافگان، جوی خوشحال، جوی سفید سنگ، جوی رحمت آباد، جوی شینکی یا جوی نار و جوی محمد آغه .**

# لوګري ولس اختر څنګه ولمانځل؟

**اختر دمسلمانانو لپاره نېکمرغه او بختوره ورځ ده، چې مسلمانان وکولای شي، دغه پرتمینه ورځ په خوښیو، خوشحالیو او پخلاینې سره ولمانځي. خو زموږ په هېواد کې دغه ورځ لکه څنګه چې لازمه وه لمانځنه یې ترسره شي، ولې هغسې نه شول، بلکې افغانانو دخوښیو او خوشحالیو پرځای په ماتمونو او خفګان اختر ولمانځه .**

**که څه هم په هېواد کې د وسلوالو طالبانو او دولت لخوا درې ورځنی اوربند هم اعلام شوی ؤ، خو بیاهم د اختر په شپه دهېواد دښمنانو لوګر ولایت کې یوه درنه موټربم چاودنه ترسره کړه، چې ډېری عام وګړي پکې شهیدان او ټپیان شول .**

**دغه موټر بم برید وسلوالو مخالفینو په داسې مهال ترسره کړل، چې لوګري وګړو د اختر سودا دترلاسه کولو وروسته کورونو ته تلل؛ څو له خپلوکورنیو سره اختر په خورا مینې اومحبت ولمانځي، خود هېواد اصیل دښمنانو ورباندې زړه سوی ونه کړل، په کورونو کې په تمه ماشومانو او کورنیو مخې ته جنازې کېښودل شوې .**

**په لوګر کې دموټر بم چاودنې له امله تر پنځوسو زیات وګړي شهیدان او ټپیان شول. نو داسې جنایت ترسره کول، له انسانیت او اسلامیت نه لرې خبره ده، ټول ولس ددغه ستر جنایت عاملین د افغانستان دخاورې دښمنان یادوي، چې دوی په افغان ولس هیڅ زړه نه سوزوي، بلکې تل یې افغان ولس د غم په تغر کېنولي او هغو هېوادونو ته یې ګټې رسولي، چې افغانستان له پښو وغور ځوي او اقتصادي ورکړه پرافغانانو وچلوي . خو اسلام بیا دا اجازه نه ورکوي، چې څوک دې دخپلو ګټو لپاره ناوړې او غیرانساني کړنې ترسره او دیوې کلیمې ورونه دې ووژل شي .**

**د چاودنې په سیمه کې ګڼ شمیر لاسي کراچۍ پلورونکوهم بېلابېل توکي پلورل، چې دخپلې کورنۍ لپاره حلاله نفقه پیدا کړي. دخلکو په وینا زیان همدغو کسانو ته اوښتې او په یاده سیمه کې دموټرو تم ځای هم ؤ، چې زیاتره وګړي کورونو ته دتللو لپاره موټرونو ته په انتظار ولاړ ؤ .**

**ټول ولس ددغه ناوړه عمل خلاف دي، وایې، دغه کړنه د اسلامیت او افغانیت په ضد یو عمل دی، چې دبې ګناوو خلکو وینې ددې پرځای چې په لوی اختر کې دخارویو قرباني وشي، په لوګر کې د انسانانو وینې توې شوې .**

**دلوګر متدین ولس په جګړو ښکیلو لورو نه غوښتنه کوي، چې نور افغانان په ویر کېنه نه وي؛ بلکې د دغو مظلوم ولس اوښکې پاکې کړي او نور دې له جګړو لاس واخلي .**

**خو که هره ډله داسې بریدونه ترسره کوي او پکې بې ګناه افغانان وژني دا یو لوی جنایت ګڼل کیږي. افغانان چې دسولې راتلو لپاره شیبې شمیري، په دې حساس پړاو کې نه باید مخالف لوري ورته ناوړې کړنې ترسره کړي او دا ددې څرګندویې کوي، چې دافغانستان دخاورې دښمن هېڅکله هم نه غواړي، چې په هېواد کې دې ډاډمنه سوله راشي .**

**لوګري ولس ددغه دردناکې پېښې له ټولوغمځپلو کورنیو سره ځانونه غمشریکه بولي. لاسونه په لپه شهیدانو ته دفردوس جنت، ټپیانو ته بیړنۍ روغتیا او دکورنۍ پاتې کسانو ته دزړه صبر غوښتونکي دي او دلوی څښتن تعالی نه یوځلې بیا په هېواد کې دیوې تلپاتې سولې د راتلو هیله من دي، چې نور دې هر افغان په خپل سیمه کې خپلې ملي، مذهبي او عادي ورځې په ډاډه زړونو ولمانځي .**






**Mohibullah Armal**

په فسبوک د لوستو وړ لیکنې کمیابه شوې دي؟
که داسې وي نو ویلی شو چې علمي او معلوماتي لیکنې هم چندان لوستونکي نه لري.
فسبوک لکه د پېتاو بنډار خېتیالوژي، ګپې او ټوکو ته ښه مناسب دی.
یو څو کسان پېژنم چې نوي شی لیکي او خپروي، باقي ټول یا تکراري لیکل کوي، یا تقلید او یا هم کاپي پېسټ فورمول کاروي.
نو مطلب دا دی چې که غواړئ وخت سم مصرف کړئ، فسبوک لږو کاروئ.



**سیداجمل سروش**

تمام بهانه ها بر سر راه صلح باید کنار زده شود .
دیگر مردم از جنگ خانمان سوز خسته شده اند و باید به صلح برسیم و برآی رسیدن به صلح باید قربانی داده شود.
قربانی دادن برای ختم جنگ و رسیدن به صلح هر قدر هم سنگین باشد مردم خسته از جنگ حاضر به پرداخت آن خواهد بود.



**Ata Mohammad Miakhel**

هڅه وکړئ، چې د مطالعې پرمهال سم کېنئ:
– په اوږد غځېدلي حالت کې مطالعه مه کوئ؛ ځکه مغز باید هم مهالې دوې دندې ترسره کړي، هم د ویده کېدلو او هم د مطالعې.
– د اوږدې مودې له پاره په یوه ثابت حالت کې له پاتې کېدو څخه ډډه وکړئ؛ ځکه په ذهن باندې د خوب اغېزې را ولي.
– د مطالعې پرمهال په پرله پسې توګه خپل بدني حالت ته بدلون ورکړئ، ترڅو تمرکز مو زیات شي.
– کله وخت په لوړ غږ مطالعه وکړئ.
– په مناسب وخت کې مطالعه ډېره مهمه ده.
– که شونې وي، په ترمو اوبو باندې ولامبئ، دا کار ستاسو د مغز انرژي زیاتوي.



**عبدالشکور محمدی**

هر وقت کسی تو را رنجاند ، ناراحت نشو!
«این قانون طبیعت اس» درخت که شیرین ترین میوه ها داره، بیشترین سنگ ها را میخورد .

## دخپل نفوذ په وسیله دبیت المال له مال څخه شخصي ګټه اخیستنه او یا دبیت المال مال پټول :

رسول اکرم(ص)فرمایلي دي: هرکله مو چې یو کس پر یوې دندې او څوکۍ وګماره او دهغه لپاره مو یو ټاکلې اندازه حقوق وټاکل پس هر چا چې له هغې زیات واخیستل هغه حرام، خیانت اوسوء استفاده او هغه به یې دغاړې غړوندي وي. ( ابوداود ۲۹۴۳ اوصحیح ابن خزیمه دحدیث شمیره ۲۳۲۹ )

له عدي بن عمیر کندي څخه روایت دی، چې رسول الله (ص) وفرمایل: که چیرې له تاسو څخه کوم یو د کومې دندې لپاره وټاکو ، هغه بیا یو تار یاددې څخه زیات پټ کړي، داخیانت دی دقیامت په ورځ به یې راوړي .

عدي بن عمیر وایي: دانصارو یوه تورسړي وویل او ما ورته وکتل، ای دالله تعالی استازیه ! له ما څخه خپل راسپارل شوې دنده دې واخله. رسول الله(ص) ورته وویل دڅه لپاره؟ هغه وویل، ما واوریدل ته داسې او داسې وایې. رسول الله(ص) ورته وفرمایل، زه اوس هم دا وایم پر دې پوه شئ، که یو څوک زموږ دکومې دندې لپاره وټاکو ، نو هغه به زیات او لږ ټول راوړي، څه چې ورکړل شوي، هغه به اخلي دڅه څخه چې منع کړای شوی وي، دهغو څخه به ځان ساتي او ژغوري. رواه مسلم او ابوداود

رسول الله(ص) فرمایلي دي، دهر امت لپاره د آزموینې وسایل ؤ، خو زما د امت دآزموینې وسیله مال دی.

**د معلوماتو رالیږونکی : دلوګر حج او اوقافو ریاست**

## وصیت های ده گانه

**۱ ــ وقتی ندای آذان به گوشت رسید برای ادای نماز برخیز .**
**۲ ــ قران کریم را تلاوت کن ویابه آن گوش فرا ده .**
**۳ ــ اگرمیخواهی درنماز حضور داشته باشی دروضو دقت کن وخداوند(ج) رابیاد داشته باش.**
**۴ ــ درهیچ امری به مناقشه بیجا مپرداز.**
**۵ ــ ازخنده بسیار که قلب رامیمیراند، پرهیز کن .**
**۶ ــ ازمزاحی که در آن حقیقت نیست، خود داری کن.**
**۷ ــ بیش ازضرورت شنونده آوازت را بلندمکن.**
**۸ ــ ازغیبت پرهیز کن .**
**۹ ــ خود را به برادرت معرفی کن هرچند نخواسته باشد .**
**۱۰ ــ منکر کمال اولیا الله مباش .**